AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند
۲۰۱۸/۰۵/۲۶

# اسد آسمايي او په «کارامازوف ورونو» کې
# د ماشوم وژنې کيسه



استاد اسد آسمايي زما د پوهنتوني زدکړو همدوره او د کابل پوهنتون په علمي کدر کې يو همکار استاد و. اسد آسمايي له پوهاند دوکتور بهاالدين مجروح او ډوکتور غلام غوث شجاعي نه وروسته په فلسفه کې د کابل پوهنتون يو برحقه، مطرح استاد و. ده په فلسفه کې ماستري کړې وه او ورسره د هيواد، سيمې او نړۍ په کچه په فلسفه او ادبياتو کې د لوړې مطالعې خاوند استاد و.

په همدې ورځو کې مې د ماشوم زورنې د مقالو په سلسله کې «د افغانستان پر ماشومانو او کوچنيانو باندې د تاوتريخوالي سونامي، څلورمه برخه» پای ته ورسوله. سمدلاسه مې د خپل کار بله برخه پيل کړه چې د داستايوفسکي «د کارامازوف ورونه» لوستل و. څو مخه مې ولوستل چې خبره د انسان پر ظلم راتاو شوه، يوه جمله په کې داسې وه:

«... دا انساني کړه، ځناورو ته سخته بې حرمتي او سپکاوی دی.»

لوستل يې نور هم را ته په زړه پورې شول چې همدا ظالم انسان له نورو سره خو څه کوي، چې لا له ماشومانو سره څه ډول چلن کوي او...

د دې برخې هره جمله مې چې لوستله، د ذهن له تاخانو څخه مې د استاد اسد آسمايي هغه خبرې را ياديدلې چې کلونه پخوا يې په کابل پوهنتون کې د يوه استادانه بنډار په ترڅ کې ويلې او د داستايوفسکي همدا جملې به يې پرله پسې تکرارولې:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

«انسان دومره ظالم دی چي حتی په ماشومانو هم رحم نه کوي... د کارامازوف ورونو په داستان کي داستايوفسکي وايي چي يو ځناور ډولی کرکتر د ماشوم سر ته تفنګچه نيسي او ماغزه يې وربانديږ بادوي او بيا څو شيبې وروسته وايي چي: زه له ماشومانو سره مينه لرم او...»

استاد اسد به د کارامازوف د ځناور ډوله بې رحمه کرکتر وژني او ظلمونه د خپل وخت له ظالمانه کرکترونو سره مقايسه کولي او د افغانستان اوسنيو حالاتو ته چي ګورم، وينم چي هغه حالت لس چنده په خپل نفس کي ضرب شوی او د ظلم هنر خو يې لا دا دی چي د ظلم کولو وسايل او تکنالوژي يې پرمختللي شوي ده.

اوس هم هماغه ډرامه او هماغه ديالوګ د افغانستان پر ستيژ بانديږ په تکرار سره روان دي. ټوپکوال د هر لوی او واړه افغان سر ته توپک نيولی دی، نه يوازې سر، بلکي ټول بدن يې يو ځل نه څو، څو واري غلبيل کړی دی او سمدلاسه بيا په ميډيا کي کيني او وايي چي: موږ خلکو سره مينه لرو او د خلکو له پاره کار کوو.

د خبري د روښانتيا له پاره د داستايوفسکي هغه خبري چي استاد اسد تکرارولي، په لږ تفصيل سره را نقلوم.

«... ايوان فيودروويچ وويل: رښتيا ماته يو بلغاريايي په مسکو کي قيصه وکړه. ايوان داسي وښوده، چي ګواکي د خپل ورور خبري يې اورېدلي نه وي او دوام يې ورکړ: هو، هغه راته وويل، چي په بلغاريا کي ترکانو او چيرکيسيانو، د سلويانيانو د بغاوت له ډاره داسي ظالمانه جنايات ترسره کړي دي، چي مه کوه پوښتنه :

دا په دې مانا، چي سوځول يې، حلالول يې، د ښځو او ماشومانو بې عزتي يې کوله، زندانيان يې د هغو غوږو نه په ديوالونو ميخول او تر سهاره پوري يې همداسي پرېښودل او سهار يې بيا په دارونو ځړول... داسي چاري، چي انسان يې له تصوره عاجز دی.

په حقيقيت کي هم کله ناکله د انسان د ظالمانه "ځناورتوب" په اړه خبري کېږي، دا انساني کړه، ځناورو ته سخته بې حرمتي او سپکاوی دی.

ځکه، ځناور به هېڅکله د انسان په څېر، داسي ظالم نه وي. داسي ښکلاييز او هنرمندانه ظالم او وحشي. پړانګ، ساده څېرول او خوړل کوي. هوکي يوازې همدا. پړانګ ته به آن په تصور کي هم ورغلي نه وای، چي يو انسان له غوږونو، د شپې په ديوال ميخ کړي، خو آن که د دې توان يې هم لرلای، دا به يې کړي نه وای. لنډه دا، چي دا ترکان، په څه خوند ماشومان زورول، د ميندو رحمونه يې څېرول او ماشومان يې تري راويستل او پورته يې هوا ته ارتېړل او د هماغو ميندو تر مخې يې د تورو په څوکو ګوزارونه پري کول.

د ميندو تر مخې، په ماشومانو د تورو ګوزارونه او د هغو ټوټه ـ ټوټه کول، د هغو د لوبو، خوند زياتاوه. تصور يې کولای شئ: وړوکی، د تی ماشوم. په تلوار او ګبنی تلونکي مور، چي له ډاره رېږدي او دا ماشوم يې په غېږ کي دی، پر شا او خوا يې ترکان لکه کړی راتولېږي.

هغوی خورا خندنی جوړه کړې وه. ماشوم يې نازاوه او د دې له پاره، چي هغه وخندوي، خپله خاندي. هغوی، په دې بريالي او ماشوم خندوي. په دې شيبه کي يو ترکي د څلورو ورشينو په اندازه نېږدې تومانچه ورته نيسي، ښوروي يې ماشوم له خوښی نه کټ ـ کټ خاندي، خپل واړه لاسونه د تومانچي پلو ورغځوي، چي تومانچه را ونيسي، خو ناڅاپه دا هنرمند، په دې وخت کي، ګوته ماشي ته رسوي او د ماشوم په ککرۍ ډزې کوي...»

(د کارامازوف ورونه، ليکوال: فيودرميخايل داستايوفسکي، لومړی برخه، ۲۷۷ ـ ۲۷۸ مخونه، پښتو ژباړه: دوکتور لطيف بهاند)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ